دوکتور محمد اکبر یوسفی ۲۰۱۲/۰۲/۲۲

# د ښاغلی عبدالباری جهانی
# د «پینځه زره کلن خوبونه» په باب!

د داسی یو لیکوال او شاعر څخه زما هیله ډیره وه، چه ددوی له خوا د واقعیتونو او حقایقو ته نږدی متن می لوستلای. دا چه دوی د تاریخ څخه څه پوهیږی او د خلګو څخه د تاریخ د پیروی په باب څه انتظار لری، زه یکښی ویل نه غواړم. دا ځکه چه زه مسلکی تاریخپوه نه یم، او دا هم د دوی کار دی چه د یوی پخوانی پادشاهی څخه د خوښی او یا د تنفر احساس ولری. خو زه د پاچاهانو تاریخ او د هغو «ښه» او یا «ناوړه» اعمال فقط د دوی په نامه یادوم، او هیڅکله د تولنی پر اوږو باندی نه باروم.
خو کله چه می د دوی لمړنی «پراګراف» ولوست، د دوی دا متن ما ته د بی میلی احساس را وپارول، او په ډیر فشار سره می د دوی مقاله تر پایه ولوستله. زه به ډیر خوشحاله وای که چیری می د دی لمړنی «پراګراف» منبع تر لاسه کړی وای. که چیری دوی دا مفاهیم د مختلفو منابعو څخه، او احتمالاً د مختلفو قرنونو او یا د ځینو «نژاد پرستو» او د انحرافی فکر خاوند لیکوالانو څخه د «موزاییک» او یا «پوزل» په ډول یو ځای کړی وی، دا د دوی صلیقه ده، زه دا کار نکوم. زه یو انسان ته د ده دخوراک او یا پوښاک او هم دکور ، یا د ژوندانه د کیفیت پر بنا باندی، د احترام او یا خدای نا خواسته د بی عزتی په سترګه نه ګورم. زه د هر انسان کرامت ته احترام لرم او دعمل په باب یی خپله موضعګیری لرم. ماته یوه نا مناسبه کلمه چه د چا لیکنه کښی وینم، راته ډیر ګران ښکاری، چه بیا یی زه تکرار کړم. دا ځکه چه دهغی کلمی په «کټه» تکراراً د تبلیغ معنی هم درلودلای سی. که څه هم د لیکوالی اصول مونږ ته د خاصو علامو په مینځ کښی، د ګریز امکان را کړی.

له بلی خوا، ما چه د عالمانو آثار لوستی، دوی د ټولنو، دولتونو، فرهنګونو او ډیری نوری ځانګی تاریخی ریښی اختصاصی ځیری او تاریخونه یی هم فرق لری. پدی کښی شک نسته چه د ځمکی پر مخ باندی داسی ساحی او ټاټوبی لیدل کیږی چه د انسانانو د ژوند پخوانی آثاریا بقایاوی موجود دی. زه نه غواړم چه دلته «پولیمیک» او جدالی بحث پیل کړم. لیکن یواځی یو څو مثالونه، په یاد راوړم. مصر ډیر لرغونی تاریخ لری. که د مصر خلګ اوس په هغه ډول «اهرامونه» نسی جوړولای او یا یی نه غواړی، نو اوسنی ټولنه یی په عامه توګه تر انتقاد او یا پیغور لاندی نسو را وړلای.

همدا رنګه «یونانیان» په پخوانی تاریخ کښی نژدی نیمه دنیا یی تر خپل اثر لاندی راوستی وه. او هغه قدرت تبارز یی د «عیسویت» څخه د مخه وه. اوسنی شرایط یی وګوری، حتماً به هیڅوک پدی فکر ونسی چه د اسکندر مقدونی د جنګی کښتیو د جوړیدو پلان طرح کړی او یا آسان او پهلوانان وروزی او بیا د دنیا د تسخیر هڅه وکړی.

پدی کښی شک نسته چه د اوسنی افغانستان په خاوره کښی تاریخی آثار سته چه د مختلفو دورو او په تیره بیا د ډول ډول مذهبونو آثار سته، چه یو د بل سره په ضدیت کښی هم واقع وی، خو په بی شماره ډول لا تر اوسه وربانذی ځیرنی ندی سوی. یواځی د «هدی» او یا د لوګر، «عینک» ته «نژدی» د نوی حفریاتو نتایجو ته و ګوری. دا د انسانانو د لاس او د دماغ محصول دی. دا چه د دی آثارو څخه به څنګه کار واخستل سی، تر اوسه پوری نده معلومه.

هر څه چه فکر کوم او د ځانه سره وایم، چه د تبصری څخه تیر سم، خو روح می نا ارامه کیږی، چه خپلو وطنوالو ته پدی باب خپل نظر و نه وایم. د محترم جهانی صاحب د مقالی په یو بل «پراګراف» کښی داسی راغلی:»

اوس حاضرخو څه باندي لس کاله کيږی چې د څه باندي څلويښتو هیوادونو عسکر په افغانستان کی يوې خواته جنګی عملیات او بمباری کوي، بلې خواته د سولې خبرې کوي، د دې ترڅنګ لا وايي چې زموږ وران ويجاړ هیواد
راته جوړوي او عسکر او پوليس مو لا هم راته روزي .د دې معنی خو به، خدای ناخواسته، دا نه وي چې موږ د خپلو پينځه زره کلنو افتخاراتو په نتیجه کی اوس نه د جنګ مرونه یو، نه د سولې راوستلو حوصله لرو، نه د خپل وطن د آبادولو چل راځي او نه د خپلو عسکرو او پوليسود روزلو توان او کمال لرو .دغه کړی افغانستان، د


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هیله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

لویدیځو هیوادونو د پریمانه مرستو او ډیموکراسی له برکته، د اداري فساد له پلوه په نړۍ کې، له سومالیې څخه وروسته، دوهم مقام لري او د مخدره موادو په تولید او قاچاق کی یی پوره لس کاله په ټولي نړی کی لومړی مقام ساتلی دی».

پدی کرښنو کښی هم حقایق پراته دی او هم سطحی، غیر دقیق کتنی. زه او دوی دواړه په داسی سنین کښی ژوند کوو ، چه په افغانستان کښی د «پادشاهی» نظام تر سیوری لاندی، خارجی کمکونه کیدل، تر څو چه زمونږ ټولنه هم یوی انکشافی لاری ته د برابرولو کمک وکړی. خارجی ښوونکو هغه وخت هم درس ورکاوه. دا چه ولی مونږ تر شا پاته وو، هر ډول تحلیل او پیغور به موږ ته یی د ترقی لاره نه وای اختراع کړی. د شلمی پیړی، په اوپایمی لسیزی کښی زمونږ ټولنه د جهان او د ملګرو ملتونو د پر مخ پاتی۲۴ ملکونو په صف کښی، د لاندی خوا څخه به کله څلورم او کله به پنځم ملک وو. په جهان کښی یو متل موجود دی چه وایی، « د څرخ اختراع » ته « د دوم ځل د پاره » ضرورت نسته. دا پدی معنی چه بشریت خپلی اختراع ګانی او کشفیات یو بل ته سره، تبادله کوی.
زمونږ په خاوره کښی یوه «ډله» ادعا کوله چه ګویا دوی ددی خاوری په رهبری او یا د هغی په اداره باندی تر هغه نظام، په ښه لاره پوهیږی. نظام یی رنګ کړ خو خپل یی هم جوړ نکړای سو. مونږ تاسی غوندی «تعلیم لیدونکی» د دریو لسیزو را پدی خوا د وطن د خدمت څخه محروم یو ولی؟

د «څلویښتو هیوادونو عسکر....» په باب باید، علمی برخورد وسی. پدی کښی شک نسته چه د خارجی قواو حضور، په هیڅ بله خاوره کښی خلک نه خوښوی. مونږ یی هم نه خوښوو. نه یواځی نه خوښوو، بلکه دا دولت د ډیرو مهاجرو د پاره د دوی د انتخاب وړ ندی. د ملګرو ملتونو یو کار پوه وایی، چه په افغانستان کښی فقط یو تعداد ډلی، چه د ۵۰۰۰۰ ټوپکوال آمران دی صلح نه غواړی. آیا د دوی په اعمالو باندی، خوار انسانان چه هر څه یی د لاسه ورکړی ملامتیدای سی. خو دا هم په نظر کښی ولرو، چه دا عسکر نه د کومی افغانی حلقی په دعوت تللی دی او نه هم، د پخوانی «استعمار» په ډول د «اشغال» د پاره تللی دی. دوی ته، د امریکی پر خاوری باند، د تروریستی حملو یو ښکاره ثبوت وو، او پدی باور وه، چه هغه تجاوز د افغانستان په خاوره کښی «پلان» سوی وو. دوی د دی د پاره ندی تللی چه د افغانانو «خاوره» آباده کړی او ورته د «له لو له لو» بدلی و وایی.
دوی خپلی خاوری ته خطرونه لیدل، او ادعاکوی چه د «تروریزم» ریښی له مینځه وړی. او د «صلحی» مذاکرات هم د مقابل قوتونو تر مینځ معمول دی. او څه عملیات چه اجرا کوی، دوی د خپلو اهدافو په چوکات کښی د خپل حاکمیت تر سیوری لاندی اجرا کوی، او د افغان دولت چه دوی خپله تشکیل کړی، اجازه نه غواړی. دا د دوی کار دی. په افغانستان کښی قیامونه ډیر تحریک سوی. په تحریک باندی ستونزی نه حلیږی.

پدی کرښه کښی چه وایاست:« موږ اوس د بی اتفاقی او جهالت په مهلکو رنځونو اخته ملت یو.»، څوک حسابوی؟ دلته موږ څوک دی؟ موږ څنګه ملت یو؟ آیا ملت مو «پینځه زره کلن» بولی؟ او که «مدرن» تعریف لری؟
فقط د نمونی په توګه می دا څو ټکی بیان کړل، البته نور هم د تبصری وړ موضوعات سته، خو امید لرم چه صحت را ته دا فرصت را کړی چه پدی باب خپل مستقل تحلیل وړاندی کړم.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ